


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : اول جنوری ۲۰۱۴ میلادی

# هلته نه يم !!!!

کوم ځای کې چې نفرت دی بهار نشته هلته نه يم
زړکی ته چې مرحم او غمخوار نشته هلته نه يم

دنيا ځما خوښيږی ځکه يار مې پکې ژوند کـــــا
دنيا که ټول جنت شي او يـــــار نشته هلته نه يم

زه د مينـــې يم بيمار ځمـــــــا دوا ديار کتنه ده
چې په مينه او محبت کې بيمار نشته هلته نه يم

صرف مينه کې روښان شي دزړه توره تياره
هر خوا چـې وی تورتم او دلدار نشته هلته نه يم

هر ځای کې چې وی مينه هلته ټول ګل او ګزار وينم
هر خوا پراته اغزی وی ګلزار نشته هلته نه يم

خمار چې د عشق نه وی زه محب دا ديار څه کمه؟
زه وايم که د مينـــــــې خمــار نشته هلته نـــــه يم

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - WWW.SAID-AFGHANI.ORG